# د چچ په علاقه کښې

# د باچا خان تقرير

**پښتون مئ 1939**



ورونړو! د خدائے ډېر شکر دے او نن ډېر د خوشحالئ مقام دے چې د اووۀ کالو آرزو نه پس مونږ يوځائے شو، تاسو ته به ياد وي چې زۀ په 1931 کښې ستاسو دې علاقې ته راغلے وم، په دې خيال چې زۀ ستاسو په کلي کلي کښې وګرځم او دا خپل پښتانۀ ورونړه او دا وړې ترې، سرتور سرې، بې تعليمه بچې ووينم. ولې افسوس زۀ هغه وخت په دې خپله اراده کښې کامياب نۀ شوم، انګرېزي حکومت زۀ د دې علاقې نه په وتو مجبور کړم خو د الله تعالي ډېر ډېر شکر دے چې زۀ په هغه خپله زړه اراده کښې کامياب شوم او زما دا پخوانئ ارزو اخر پوره شوه او نن زۀ تاسو ته ولاړ يم د خپل زړۀ خواهشات بيانوم، اوس تاسو به دا معلومول غواړئ چې هغه کوم شيز دے، کوم غرض دے او هغه کوم مقصد دے چې زۀ ئې ستاسو په کلي کلي کښې د ګرځېدو آرزومند کړے يم. نو ورونړو! زۀ دې د پاره نۀ يم راغلے چې ستاسو نه خبر خبرات غواړم. زۀ دا نۀ وايم چې ماته شکرانه راکړئ، زۀ د دې خواهش نۀ لرم چې ما ته سبرئ ملکانې راکړئ، زۀ ستاسو نه د هيڅ شيز طمع نۀ لرم. هو! صرف د دې د پاره راغلے يم چې زۀ ستاسو خدمت وکړم او خدمت مو خالص د خدائے د پاره وکړم. ولې چې تاسو زما قام يئ تاسو زما ورونړه يئ، تاسو زما عزيزان يئ، زما د راتلو غرض دا دے چې ستاسو غوږونو ته يو پېغام ورسوم او هغه پېغام د ملک د آزادئ پېغام دے او تاسو ته ووايم چې اې زما ورونړو! پاڅئ، ويښ شئ، خپل سُود او زيان وپېژنئ، خپله ورورولي يوه کړئ، اتفاق وکړئ او زمونږ په دې نوې وروري، نوې عزيزدارئ خدائي

خدمتگارۍ کښې داخل شئ. مونږ يو قام يو، د يو بابا اولاد يو، يو مو ملک دے، يو مو غم دے، يوه مو خوشحالي ده او ستاسو توجه دې خبرې ته راوګرځوم چې دا نن چې تاسو خوار يئ، غريبان يئ، بې تعليمه يئ، په بد حال يئ نو دا ولې؟ تاسو چرې ځان ته فکر کړے دے، دې خپلو بچو ته مو خيال کړے دے، په دې خپل وطن مو نظر اچولے دے، افسوس چې تاسو همېشه د نورو په فکر کښې يئ، تاسو شپه او ورځ په دې غم کښې يئ چې بل پښتون ته به څنګه نقصان ورسوئ، تاسو همېشه ورور ته د نقصان رسولو بندونه تړئ. عزيز ته د کوهي د کنستو په سودا کښې ډوب يئ. خپل ځان ته خيال نۀ کوئ، خپلو بچو ته فکر نۀ کوئ، خپل ذليل حال ته نۀ ګورئ نو دا خبرې دي چې زۀ پرې تاسو پوهول غواړم. زۀ په تاسو پسې کلي په کلي ګرځم.

کوشش کوئ چې ستاسو په خپلو کښې خط کتابت په پښتو کښې وي، د دې مطلب دا نۀ دے چې نورې ژبې هډو زده کوئ مۀ. بالکل زده کوئ ئې، هله کله چې خپله قومي ژبه پښتو مو زده وي، کۀ نۀ وي نو زۀ وايم چې پښتون تر هغې د "پښتون" بللو لائق نۀ دے تر څو چې پښتو ئې زده نۀ وي

اې پښتنو ورونړو! خدائے دپاره بېدار شئ د خپل ځان غم وکړئ د خپل دين دنيا فکر وکړئ، تباه شوئ او تباه کېږئ، ورک شوئ او ورکېږئ، تاسو په دې خبره غور کړے دے چې دا مونږ داسې تباه ولې يو، داسې ذليل ولې يو. ورورنړو! دا ځکه چې مونږ غلامان يو په مونږ حکومت د يو بل قام دے، تاسو ته معلومه ده چې مونږ به تر کومه غلامان يو. ورونړو! مونږ به تر هغې غلامان يو چې تر څو زمونږ کور وران دے، مونږ به تر هغې خوار او ذليل يو چې زمونږ اواز يو نۀ دے، خدائے دپاره پاڅئ خپل کور جوړ کړئ، اواز يو کړئ، خپلې کورنۍ دښمنۍ ورکې کړئ، مقدمه بازۍ پرېږدئ د ناحقو شهادتونه مۀ کوئ، ورور ورور وګڼئ خپل خپل وګڼئ. بله ضروري خبره د خپلې ژبې ده.

نو اې ورونړو! پښتون هر څومره چې يو بهادر قوم دے خو د ژبې په معامله کښې ډېر کمزورے دے چرته چې لاړ شي نو خپله ژبه پرېږدي، همېشه دوي د بل ژبه قبلوي او خپلې ژبې ته شا کوي نو زۀ تاسو ته وايم چې خپلو بچو ته پښتو زده کړئ، کوشش کوئ چې ستاسو په خپلو کښې خط کتابت په پښتو کښې وي، د دې مطلب دا نۀ دے چې نورې ژبې هډو زده کوئ مۀ. بالکل زده کوئ ئې هله کله چې خپله قومي ژبه پښتو مو زده وي، کۀ نۀ وي نو زۀ وايم چې پښتون تر هغې د "پښتون" بللو لائق نۀ دے تر څو چې پښتو ئې زده نۀ وي، زۀ اميد لرم چې تاسو به زما دا خبرې د زړۀ په غوږو واورئ او په دې به د عمل کولو کوشش وکړئ.

پښتون رساله وړومبۍ مۍ **1939**